مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۰/۰۹

تسلی

نیمه شپه ده تسلي مې زړه ته ستا د راتلو ورکړم
نه پوهیږم چې تګ څنګه د تسکین په ورشو ورکړم

ناداني یاعبادت دی که جنون دی یا کوم عشق دی
په ژړا شم خپل ځښتن ته سزا زړه ته د شپو ورکړم

هرکلی به د بڼونو په پرتو ستا لیدو ته ورکړم
څه جوړه به ستا درزا او څه ښکلا کتو ته ورکړم

ستا خواهش به پړقا کې له برېښنا او تندر واخلم
خپل تصویر به مې سپوږمۍ ته ستا لیدو ته ورکړم

زارۍ نه کړم فطرت زما د پښتنو دی خو که راشي
ځوابونه به جانان ته زما د هرو بدو ورکړم

۲۳-۱۰-۲۰۱۹

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ